AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حشمت ناصري

۲۰۲۰/۰۶/۰۲

# افغانستان په وروستیو دوو لسیزو کې

افغانستان چې یو وخت د سیمې تر ټولو امن هېواد و، د دریو لسیزو کورنیو جګړو له پیل وروسته پر کنډوالې بدل شو. د همدې کورنیو جګړو په پایله کې له (۷) میلیونو څخه ډېر افغانان مهاجر او بې ځایه شول، (۲) میلیونه شهیدان او (۲) سوه زره نور یې معلول او معیوب شول.
په امریکا کې پر سوداګریزو مرکزونو برید نړۍ له درونډ خونه رابېداره کړه او نړیواله ټولنه چې افغانستان سره یې اړیکې شلېدلې وې، د بحران د حل لپاره یې هڅې پیل کړې.
د بُن کنفرانس او په‌کې شوي توافقات د دې لامل شول چې د نوي افغانستان بنسټ کېښودل شي. د بُن په کنفرانس کې افغانانو هوکړه وکړه چې د نړیوالې ټولنې په همکارۍ به یو معتدل، دموکراتیک او قانونمند دولت په افغانستان کې رامنځته کوي. د دې هوکړې پایله دا شوه چې یوه لنډمهالې اداره رامنځته شي څو د بُن کنفرانس پرېکړې عملي بڼه خپله کړي.
لنډمهالې اداره رامنځته او وروسته پر انتقالي دولت بدله شوه چې په دې سره په افغانستان کې د خلکو د غوښتنو او ارمانونو سره سم د یو دموکراتیک نظام د جوړېدو لپاره لومړنی ګام پورته شو. له ټول هېواد څخه د ۵۰۳ تنو انتخابي او انتصابي استازو په ګډون لویه جرګه جوړه او خلکو ته د خپل راتلونکي برخلیک د برابرولو په اړه زمینه برابره شوه.
په لویه جرګه کې د نورو مهمو او ملي مسایلو تر څنګ د افغانستان اساسي قانون هم په ۱۲ فصلونو او ۱۶۲ مادو کې تصویب شو چې په دې کار سره په افغانستان کې د یو قانونمند او باثباته دولت د رامنځته کېدو زمینه برابره شوه.
د اساسي قانون له تصویب او د جمهوري ریاست د لومړنیو ټاکنو په ترسره کېدو سره افغانستان د ولسواکی نظام پر لور ګامونه پورته کړل. په ټاکنو کې د خلکو په تېره بیا د مېرمنو ګډون دې پروسې ته یو نوی رنګ ورکړ او دا لړۍ هم په بریالیتوب ترسره شوه.
د ولسمشریزو ټاکنو په ترسره کېدو او د انتخابي حکومت د چارو له پیل سره د نظام اساسي برخو ته د عملي بڼې ورکولو لپاره زمینه برابره شوه او د افغانستان ملي شورا (پارلمان) چې دا مهال د دولت ځواکمنه قوه ده، رامنځته او پر فعالیت یې پیل وکړ. دا مهال افغانستان یوې نوې مرحلې ته داخل شوی و او یو هېر شوي هېواد کرار کرار د نړیوالو پام د ځان پر لور راړولو.
د ټوکیو، برلین، لندن، پاریس او روم په څېر کنفرانسونو دې ته زمینه برابره کړه چې په اقتصادي، ټولنیز، نظامي او سیاسي برخو کې د افغانستان بیارغونې لپاره مرستې راټولې شي.
د هغو تاسیساتو چې د کورنۍ جګړې پرمهال زیانمن شوي وو، بېرته د جوړېدو په موخه یې یوې ملي ستراتیژۍ ته اړتیا درلوده او بلاخره د نړیوالې ټولنې په مرسته افغان دولت د ملي انکشاف ستراتیژۍ په نوم یوه ستراتیژي برابره کړه.
د دې ستراتیژۍ په رامنځته کېدو سره په اقتصادي، ټولنیز او سیاسي برخو کې بنسټیز ګامونه پورته شول او همدارنګه د پولیسو او ملي اردو بیا جوړېدو او رامنځته کېدو ته هم پاملرنه زیاته شوه. دا مهال د ملي اردو سرتېرو شمېر تر ۲۰۰ زرو تنو او د ملي پولیسو شمېر له ۱۰۰ زرو تنو ته رسېدلی.
د رسنیو ازادي هغه څه وو چې خلکو یې هېڅ تمه نه درلوده، خو انتخابي حکومت ورته پاملرنه زیاته کړه او دا مهال د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې شاوخوا ۹۰۰ چاپي، غږیزې او تصویري رسنۍ پر ازاد فعالیت بوختې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ښوونځیو زده‌کوونکو شمېر دا مهال له اوو میلیونو څخه زیات دی چې له ډلې یې ۴۰ سلنه ښځینه زده‌کوونکې دي.
همدارنګه، د افغانستان په پوهنتونونو کې نږدې ۴ زره نارینه محصلین پر زده‌کړو بوخت وو، خو دا مهال شاوخوا ۱۰۰ زره محصلین چې له ډلې یې ۲۵ سلنه ښځینه دي؛ په پوهنتونونو کې پر زده‌کړو بوخت دي.
د نورو ممهمو بدلونونو تر څنګ، د قوي او باثباته پشتواني سره د نویو پیسو چاپ هم د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ ودې او پراختیا ته زمینه برابره کړه.
په وروستیو دوو لسیزو کې افغان حکومت د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د سلګونو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو په جوړولو سره روغتیایي خدماتو ته د خلکو لاسرسی اسان کړ او د مور او ماشوم د مړینې کچه یې د پخوا په پرتله خورا راټیټه کړه.
د برېښنایي انرژۍ تامین د افغان حکومت یو له مهمو لومړیتوبونو څخه شمېرل کېده. په لومړیو وختونو کې شاوخوا ۶ سلنه خلکو برېښنا ته لاسرسی درلود، خو په تېرو دوو لسیزو کې دا شمېر تر ۴۵ سلنې لوړ شوی دی.
همدا ډول د مخابراتي شبکو له رامنځته کېدو سره دا مهال په افغانستان کې شاوخوا ۱۰ میلیونه خلک له مخابراتي اسانتیاو څخه برخمن دي او شپږ میلیونه افغانان له انټرنیټي خدماتو څخه استفاده کوي.
د وروستیو دوو لسیزو په جریان کې افغان حکومت د کروندګرو، مالدارانو او باغدارانو د ودې لپاره د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې له ۴۰ زرو څخه زیاتې انکشافي پروژې تطبیق کړې دي.
همدارنګه د هېواد په کچه د نږدې ۶ زره کیلومتره سړک په رغونې؛ کلي له ولسوالیو، ولسوالۍ له ولایتونو او ولایتونه له ښاري سیمو سره نښلول شوي دي او د خلکو د تګ راتګ، په تېره د سوداګریزو راکړه ورکړې او د کرنیزو اقلامو د انتقال په برخه کې لازم اسانتیاوې رامنځته شوې دي.
په حقوقي بنه د ځمکوالۍ چارو تنظیم او ښاري پراختیا په برخه کې چې پایله یې اقتصادي وده او ټولنیز هوساینه ده د حکومتوالۍ اړین اسناد تدوین او تصویب شوي چې په دې کار سره نه یوازې د شاوخوا ۱۰۰ کلونو پخوانۍ تشه ډکه شوې بلکې د افغانستان د ځمکوالۍ چارو تنظیم په تړاو ۵۰ کلن واضح او مدرن لید لوری رامنځته شوی چې له امله یې د هېواد په کچه د حکومت ملي او انکشافي پالیسیو او پلانونو تطبیق ته لازم فرصتونه برابر شوي دي.
له دې ټولو سره سره افغانستان نور په نړۍ کې د یو منزوي او وروسته پاتې هېواد په توګه نه پېژندل کېږي. افغانستان دا مهال د ۳۴ مقیمو سفارتونو او ۳۸ غیرمقیمو سفارتونو کوربه دی.
په ورته وخت کې افغانستان په نورو هېوادونو کې ۴۲ سفارتونه او ۱۶ جنرال قونسلګرۍ لري. دا مهال افغان دیپلوماتان په لوړو بین المللي مقاماتو کې فعاله ونډه لري.
په سارک، ایکو، کاریک او نورو نړیوالو سازمانونو کې د افغانستان غړیتوب د دې ښکارندویي کوي چې دا هېواد په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه فعاله ډیپلوماسي لري.
دا مهال افغانستان سختې او نه‌هېرېدونکې مرحلې تر شا پرېښې دي او اوس ټول افغانان تر یو بیرغ لاندې په سوله‌ییز چاپېریال، دوستۍ او وروروﻟۍ سره ژوند کوي. کوچنیان او ځوانان په خندنۍ څېره د زده‌کړو تر لاسه کولو په موخه ښوونځیو او پوهنتونونو ته ځي.
ښځې او مېرمنې چې یو وخت له خپلو حقونو او امتیازاتو څخه بې برخې او په انزوا کې وې، دا مهال له نارینه‌و سره اوږه په اوږه په سیاسي، ټولنیز، فرهنګي او اقتصادي برخو کې فعاله ونډه لري.
اوس‌مهال افغانان په ملي پروسو کې د مشارکت له لارې د هېواد په ګټه خپله فکر کوي، خپله تصمیم نیسي او خپله انتخابات کوي.
دا مهال هر افغان خپل ورک شوی هویت بېرته پیدا کړی او د خپل روښانه راتلونکي لپاره فکر کوي.
له دې ټولو سره سره افغانستان اوس هم یو اوږد سفر په مخ کې لري، تر څو د پرمختګ او ټولنیزې ارامۍ لوړو څوکو ته ورسیږي.
هیله ده چې په نظام کې ملي همبستګۍ او د خلکو مشارکت د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره وسیله وګرځي.

###